

1-855-626-0002
https://settlement.org/o2o

# Orientation to Ontario

# په اونټاریو کې کار کول

## د کار لهپاره چمتو کېدل

د کار کولو لهپاره تاسو باید د ټولنیزې بیمې شمېره (SIN) ولرئ. دیادې شمېرې د غوښتنې د څرنګوالي په اړه د پوهېدو لهپاره په ، د کاناډا خدمتونو ویبپاڼه وګورئ servicecanada.gc.ca یا findlink.at/SIN

## د اعتبار ارزونه

یوه ارزونه به د هغه روزنې او زده کړې سره سمون ولري چې تاسو د کاناډا څخه بهر بشپړ کړې وي او د کاناډا له تعلیمي سیسټم سره معادلې وي.

تاسو ممکن دې ارزونې ته اړتیا ولرئ یا نه. که چېرې تاسو د اعتبار ارزونې ته اړتیا لرئ نو دا غوره ده چې دندې ته له غوښتنلیک ورکولو وړاندې یې معلومه کړئ. د لا زیاتو معلوماتو لهپاره د نړیوالو اسنادو لپاره د کاناډا د معلوماتو مرکز ته مراجعه وکړئ cicic.ca یا findlink.at/cicic-cred

## نا منظم او او خپله تنظیم کړي مسلکونه

په غیر منظم شغل کې د کار کولو لهپاره تاسو ځانګړي جواز ته اړتیا نه لرئ.

په نامنظمو کسبونو کې مالي مدیران، اقتصاد پوهان، د کمپیوټر پروګرامرونه، کتاب ساتونکي، د پلور استازي، پرچون پلورنځیو مدیران او نور ډېر څه شامل دي.

ځینې مسلکونه شته چې په هغو کې تصدیق د ترلاسه کولو وړ دی، مګر په اونټاریو کې د کار کولو لهپاره ورته اړتیا نه شته.

دا خپله تنظیم کړي مسلکونه بلل کیږي او د دې مثال د بشري سرچینو مشاور دی. ډېری کارګمارونکي د تصدیق شوو مسلکیانو استخدام ته لومړیتوب ورکوي، که څه هم دوی د قانون له مخې اړین نه دي.

## تنظیم شوي یا ترنظارت لاندې مسلکونه

په منظمه یا ترنظارت دنده کې د کار کولو لهپاره به تاسو د اونټاریو د نظارتي ادارې له لوري ورکول کېدونکي ځانګړي جواز ته اړتیا ولرئ. په تنظیم شویو یا ترنظارت لاندې مسلکونو کې د ټولنیز کارمند، نرس، د مساج معالج، برقي نلدوان، انجنیر، معمار او ډېر نور شامل دي.

د دې معلومولو لهپاره چې آیا ستاسو مسلک تنظیم شوی (ترنظارت لاندې)، نامنظم یا په خپله تنظیم کړی شوی دی، ontario.ca یا findlink.at/occup ته لاړ شئ.

د جواز اخیستو د معلومولو لهپاره په 1-866-670-4094 شمېره د Global Experience Ontario ته زنګ ووهئ یا ontario.ca یا findlink.at/GlobalExpe وګورئ.

## GEO, Global Experience Ontario

Global Experience Ontario د نړیوالو روزل شویو اشخاصو لهپاره یو لړ خدمتونه وړاندې کوي چې په یو منظم مسلک یا اجباري تجارت کې روزل شوي، چې د روغتیا سره تړاو نه لري. د GEO سره د اړیکې نیولو لپارهپه لاندې شمېره زنګ ووهئ 1-866-670-4094 یا ontario.ca ته مراجعه وکړئ.

## د اونټاریو د روغتیا ځواک


HealthForceOntario د روغتیا په برخه کې د نړیوالو روزل شویو متخصصینو لهپاره د جواز ورکولو او مسلک اختیارونو (اپشنونو) په اړه معلومات چمتو کوي. د HealthForce-Ontario سره د تماس لهپاره په لاندې شمېره زنګ ووهئ 1-800-596-4046 یا healthforceontario.ca ته مراجعه وکړئ یا findlink.at/ healthprofs

Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada



## بریجبنګ پروګرامونه

د بریجبنګ (پل) پروګرامونه په نړیواله کچه روزل شوو کارګرانو ته روزنه او کاري تجربه او همدارنګه د کار موندنې مرستې چمتو کوي. دا برنامې کولی شي تاسو سره د جواز په ترلاسه کولو کې هم مرسته وکړي چې تاسو یې په تنظیم شوي مسلک کې ورته اړتیا لرئ.

په خپله سیمه کې د بریجبنګ پروګرامونو په اړه د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره canada.ca یا findlink.at/training وګورئ.

## د کار لټون

لاندې پروګرامونه او ویب پاڼې له نویو راغلو کسانو سره د کار مارکیټ په اړه په پوهاوي او په کار موندلو کې مرسته کوي.

- د اونټاریو د کار مارکیټ معلومات: ontario.ca یا .findlink.at/LMI
- Working in Canada Tool workingincanada.gc.ca یا settlement.org یا findlink.at/Employinfo
- کاناډا د دندو خدمت ډیټابیس: .jobbank.gc.ca

## د کار غوښتنه کول

د اونټاریو کارموندنه - کله چې د دندې په لټه کې یاست تاسو د شته یا موجودو پوستونو (د دندې فرصتونو یا پوزیشنونو) او همدارنګه د روزنې فرصتونو لپاره د اړینو مهارتونو او تجربې په اړه سمو معلوماتو ته اړتیا لرئ. همدارنګه د خپلو سوانحو ښه خلص باید جوړ کړکئ او زده کړئ چې څنګه اغیزناکه مرکه وکړئ.

د دې مهارتونو او وسیلو په اړه د زده‌کړې او د کار اړوند نورو خدمتونو ته د لاسرسي لپاره په خپله ټولنه کې د اونټاریو د کارموندنې دفتر ته مراجعه وکړئ. د اونټاریو د کارموندنې دفتر موندلو لپاره 1-800-387-5514 ته زنګ ووهئ یا ontario.ca یا findlink.at/ineedajob وګورئ.

د عمومي معلوماتو لپاره د اونټاریو کارموندنې د اړیکو مرکز ته په 1-800-387-5656 شمېره زنګ ووهئ.

دا خدمت په انګلیسي، فرانسوي او نورو ژبو کې شته.

د کاناډا د کار یا دندې بانک - د شته دندو پرلېست کولو سربیره د کاناډا د دندو بانک د روزنې او مسلکونو په اړه معلومات وړاندې کوي.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره canada.ca یا jobsetc.gc.ca ته لاړ شئ.

## رضاکاري او کار زده کړې

داوطلب یا رضاکارانه کار کول د نوو مهارتونو د زده کولو، تجربې ترلاسه کولو او د احتمالي کارمندانو سره د شبکې جوړولو لپاره یوه غوره لار ده. کار زده‌کړه د لنډ مهاله کاري تجربې فرصت دی. د ځینو عملي زده کړو یا کار زده‌کړو لپاره باید پیسې ورکړئ. او ځینې نور وړیا یا داوطلب فرصتونه دي.

211 ته زنګ ووهئ او د خپل محلي رضاکار مرکز موقعیت وپوښتئ.

په ovcn.ca کې د اونټاریو رضاکار مرکز شبکې ته مراجعه وکړئ

Career Edge په بېلابېلو نامنظمو کارونو په برخو کې د کارزده‌کړې زمینه برابروي. د نورو معلوماتو لپاره 1-888-507-3343 ته زنګ ووهئ یا careeredge.ca لینک وګورئ.

## د کار ځای حقونه

**د اونټاریو د بشري حقونو کوډ** - د قانون له مخې د عمر، نژاد، اصلي هېواد، توکم، مذهب، معیوبیت، د کورنۍ دریځ، جنسیت پیژندنې یا جنسي تمایل پر بنسټ له یوه شخص سره تبعیض یا هغه ځورول غیرقانوني دي. زده کړئ چې دا کوډ په اونټاریو کې څنګه په کار ځای کې مساوات تضمینوي

د بشري حقونو کمیسیون: ohrc.on.ca یا findlink.at/ohrcemploy

## د ګمارنې د معیارونو قانون (ESA)

دا قانون د کاري ساعتونو، معاش او کاري چاپیریال په شمول ټول هغه معیارونه ټاکي چې ګمارونکي او کارکوونکي یې باید تعقیب کړي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د کار وزارت د استخدام معیارونو معلوماتو مرکز ته په 1-800-531-5551 زنګ ووهئ یا ontario.ca یا findlink.at/err ته مراجعه وکړئ.

## د حرفوي روغتیا او خوندیتوب قانون

دا قانون د کارګرانو روغتیا او خوندیتوب ساتي او د کارګمارونکو مکلفیتونه په ګوته کوي. په کار ځای کې د خوندیتوب او د کارګر په توګه ستاسو د حقونو په اړه نور معلومات ontario.ca یا findlink.at/hsafety کې وګورئ.

د کارګرانو روغتیا او خوندیتوب پوهاوی په څلورو مرحلو کې د کار وزارت یو ه خپرونه ده. د یادې خپرونې د کاپي غوښتلو لپاره په 1-800-267-8097 کې ServiceOntario ته زنګ ووهئ یا ontario.ca یا findlink.at/hsawarenes ته لاړ شئ.

د کار ځای د خوندیتوب اندېښنې راپور ورکولو لپاره په دې شمېره زنګ ووهئ *1-877-202-0008*

## د کارګرانو تاوان

که تاسو په کار کې ټپي شوي یاست، کېدای شي تاسو د اونټاریو کاري ځای خوندیتوب او بیمې بورډ (WSIB) له لورې د خسارې مستحق وئ. د نورو معلوماتو لپاره 1-800-387-0750 ته زنګ ووهئ یا په wsib.ca کې WSIB ته مراجعه وکړئ.